ورځپاڼه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال۲٥مه گڼه پرله پسی (٤۳۱)چهارشنبه د۱٤۲۲هـ ق دربیع الثانی (۲۷)
د۱۳۸۰ هـ ش کـال دســرطان (۲۷) د۲۰۰۱ مـیـلادی کـال دجـولای (۱۸)

په پاکستان کی د میشتو مهاجرو مخورو استاځو د ریاست الوزراء اداری مرستیال ته د بشپړ ملاتړ ډاډ ورکړ

کابل :

د ریاست الوزرا ، اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخندپرون له غرمې مخکې دخپل کار په دفتر کې دپاکستان په اسلامی جمهوریت کې ،میشتو افغانی مهاجرینو له یو شمیر مخورو سره وکتل .

د دریاست الوزرا ، مطبوعاتی دفتر د باختر اطلاعاتی اژانس ته خبر ورکړ . د دغې کتنې په بهیر کې محترم مولوی زین العابدین ، محترم قاضی محمد نذیر همت ، محترم انجنیر حقیق او محترم ویس الدین په داسی حال کې چې د بهرنیو چارو وزارت سیاسی

معین محترم ملا عبدالجلیل اخند هم حاضر ؤ . د نورو په نمایندگی خبری وکړی او وی ویل د افغانستان اسلامی امارت د هیواد دخلکو د لورو گټو او هدفونو او دافغانستان د مومن ملت د مقدس جهاد ممثل دی او مور د هغو شرعی مسئولیتونو له

مخې چې دخلکو په وړاندی لرو له اسلامی امارت سره ملاتړ او دهغه اطاعت په ځان او د افغانستان په ټولو مسلمانو خلکو باندی لازم بولو . حقیقت دادی چې زیاتره مهاجرین او مجاهدین د خپل اسلامی امارت بشپړ ملاتړ کوی
٤ مخ

الهی فرمان

نو کله چی زموږ عذاب وربااندی راغی ، ولی یی عاجزی نه کوله ؟ خو ددوی زړونه (نورهم) کلک شول او شیطان هماغه څه ورته ښایسته کړل چی دوی به کول --- (٤۳-انعام)

به اثر محدودیت های ایران :
هزار ها مهاجر افغان به وطن عودت می نمایند

هرات :

بالاثر محدودیت های کاری که ازسوی کشور ایران برای مهاجرین افغان درآن کشور ایجاد گردیده است روزانه بین دوالی سه هزار از مهاجرین افغان مقیم ایران از طریق مرز اسلام قلعه دوباره به کشور عودت می نمایند .

آژانس اطلاعاتی باختر از شهر
ص ٤

د بهرنیو چارو وزیر کوفی انان ته په یو لیک کی :
اسلامی امارت ستاسو د مثبت دریځ هرکلی کوی
هیله ده نور هیوادونه هم د دې دریځ مرسته وکړی

دولسوالی لعل وسرجنگل
یک گروپ اخلال گران سرکوب گردید

غور :

یک گروپ از اخلال گران نظم عامه در مربوطات ولایت غور توسط نیروهای امنیتی انولایت سرکوب گردیده است. آژانس اطلاعاتی باختر از ولایت غور خبرداد .

موظفین بیدار امنیتی ولایت غور باهمکاری مستقیم باشنده
ص ٤

د مسعود دجگړه مارو له خوا :
په چاریکار کی د خلکو درمندونه ضبط شول

پروان – شریعت :

د پروان ولایت مرکز چاریکار له شاوخوا نه راغلی عینی شاهدان وایی چې په دې وروستیو کې مسعود یو فرمان جاری کړی او له خپلو جگړه
٤ مخ

امنیت شوری له افغانانو سره دمرستی پرځای بندیزونه ولگول

کابل :

د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل د اریانا افغان هوایی شرکت د الوتکو په الوتنو باندی دملگرو ملتو دسازمان د امنیت شورا د بندیزونو د لږی کولو په وړاندې د ملگرو ملتو د سازمان د سرمنشی ښاغلی کوفی انان واقعبینانه دریځ هرکلی کړیدی . او له دې امله یې د دغه ښاغلی په نامه
٤ مخ

اظهارات کوفی انان وعکس العمل مردم
ص ۴

کجاست چشمانی که تأثیر تعزیرات را مشاهده کند — خواهر سبین کارمند طبی :

جامعه ملل باید هرچه زودتر مشکلات مردم را در نظر بگیرد — احمد شعیب دوکاندار در شهرنو

کوفی انان هغه تصمیم چې نیولی باید عملی یې کړی — محمد اکرم د امانی مدرسې استاد

بالاخره کوفی انان واقعیت را درک کرد — سراج الدین موتروان

په کابل کی دکندهار فټبال ټیم ته سپورتی سزاورکړی شوه

کابل :

دکندهار ولایت دفټبال ټیم دکابل په ورزشی لوبغالی کی دفټبال دلوبی په بهیر کی دیو لړ سرغړونو او دسپورتی قوانینو دترپښولاندی کولو له امله ددوو ورځو لپاره دفټبال له لوبوڅخه بی برخی کړی شو او دغه ټیم ته سپورتی سزا ورکړشوه دباختر
٤ مخ

په کابل پوهنتون کی
د والیبال لوبی پیل شوی

کابل – شریعت :

دجام صلح په نامه د والیبال څلورم ټورنمنټ چې دکابل اته آزادی لوبډلی او دناصر الکوزی لوبډله پکی برخه لرله پرون دکابل پوهنتون په جمنازیوم کی خپلی لوبی پیل کړی دغه تورنمنټ چې د دوایا لا دغدا سپورت تر نظر لاندی
٤ مخ

امریکا د ډالیز نظام تجربی کوی

تهران رادیو :

د امریکا د دفاع وزارت اعلام وکړ چی په پام کی لری خپل د راکټی دفاع سیستم ازمایښتونو ته دوام ورکړی .

د امریکا دولت د نړی د هیوادونو له مخالفت سره سره د تیری شپی په ورځ د راکټی دفاع سیستم و ازمایه.

دروان کال په بهیر کی :
دننگرهار معدنیاتو اوکارخانو څه دپاسه دوه میلیارده افغانی گټلی دی

ننگرهار :

دروان کال په بهیر کی دننگرهار په ولایت کی دکانونو دراایستلو او دفابریکو دتولیداتو له پلوه دوه ملیارده دری سوه نولس ملیونه دری سوه نهه زره
٤ مخ

کار جویچه های سرک پروژه جدید به سرعت ادامه دارد

کابل :

کار اعمار جویچه های اطراف سرک پروژه جدید خیرخانه شصت فیصد تکمیل گردیده است .

آژانس اطلاعاتی باختر خبر میدهد محترم مولوی محمد یعقوب قانع معاون اداری وکفیل ریاست شاروالی
ص ٤

دکابل آریانا کارخانه په څوارلسو ورځو کی یوټن بسکټ تولیدوی

کابل –شریعت :

لکه چی معلومه ده صنعت یا دیو ښه جوړول په کوم قوم یا ژبی پوری تړاونه لری نوځکه پدې دگر کی افغانانو هم خپلی متی رانغښتی او
٤ مخ

په گردیز کی دروغتیا روزنیز کورس پرانیستل شو

گردیز : دجنوب زون د عامی روغتیا ریاست او پاتنو روغتیا یی پرسونل ته درمل جوړونی روزنیز کورس ورمهورځ د گردیز په ښار کې جوړ شو .

دا دجنوب زون په سطحه پراخ لومړنی کورس دی چې د دغه زون د عامی روغتیا ریاست د اوبا تو روغتیا یی پرسونل لپاره د درمل جوړونې د چارو د زده کړې په برخه کې د عامې روغتیا وزارت لخوا د خیریه موسسو او سازمانونو په همکارۍ د گردیز په ښار جوړیږی .

مشاور پوتین :
نظامیان روسی درچیچن از حقوق بشر تخلف نموده اند

بی بی سی – شریعت :

دولت روسیه سه تن از قوماندانان نظامی خویش را که درچیچن دست به آزار واذیت مردم مسلمان چیچن میزدند از وظایف شان سبکدوش نمود . گفته میشود این سه قوماندان درعملیات نظامی ماه جاری درسه دهکده جمهوری چیچن اشتراک داشته وطی آن مردم مسلمان این سه دهکده را به طور ظالمانه وبی شرمانه مورد شکنجه قرار داداند .

یک تن از مشاورین پوتین رئیس جمهور روسیه نیز اعتراف کرده که نظامیان درچیچن از حقوق بشر تخلف نموده اند .

صهیونستها باز هم جنایت کردند

رادیو تهران – شریعت:

مناطق مختلف فلسطین دیروز بازهم مورد حملات وحشیانه قرار گرفت عساکر
ص ٤

وزیر خارجه پاکستان :
از مذاکرات مشرف ووا جپای خو شبین هستیم

بی بی سی – شریعت:

عبدالستار وزیر خارجه پاکستان از مذاکرات مشرف وواجپای اظهار خوشبینی کرد. وزیر خارجه پاکستان دیروز دریک کنفرانس مطبوعاتی گفت پرویز مشرف واتل بهاری واجپای در مذاکرات اخیر شان در مورد حل مساله کشمیر تبادل نظر نموده اند .

این مذاکرات میان مامورین ارشد پاکستان وهند راه را برای مذاکرات آینده طرفین بازکرد تا طرفین درمورد مسایل مورد اختلاف به توافق دست یابند .

دکابل -جلال آباد سړک دپخو لو کاردی گړندی شی

کابل –شریعت:

څرنگه چی دهیواد لویی لاری په ملی اقتصاد کی پوره ارزښت لری او ټول صادرات واردات له همدغو لارو . ورل کیږی راوړل کیږی خو په هیواد باندی د سروروسانو په یرغل کی زموږ دهیواد ټولی لوی لاری کنډاو کپر شوی مگر په خوشحالی سره باید وولیو داسلامی امارت دټینگښت او فواید عامی وزارت په پاملرنه دهیواد په ټولو لویو لارو دبیا جوړونی کارونه پیل شوی دی په دې لړکی زموږ خبریال
۳ مخ

عکس : دکابل جلال آباد سړک بوځنده — دیوسف عکاسی

په مشهد کی دیوی بلی بدلمنی مړی و میندل شو

بهرنی خبری سرچینی :

راپوروونه وایی چې د ایران په مشهد کې دیوی بلی بدلمنی مړی هم تر لاسه شوی دی را پور زیاتوی چې دا میرمن د خپل سر په تکری کې زړول شوی او بیا په خپل تور تکری کې نغاړل شوی وه . دا په مشهد کې د ورته وژنو په لړ کې اتلسمه مړینه ده .

چین : درا ثر انفجاریک خانه ۴۰ تن کشته شد

صدای آلمان – شریعت:

چهل تن در شمال کشور چین زمانی هلاک گردیدند که یک دیپویی مهمات ومواد منفجره درآنجا انفجار کرد .

این انفجار در یک منزل رهایشی رخ داد . گفته میشود که این خانه مسکونی انبار مواد منفجره بود .

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدای «ج» په نامه

آیا-په «آریانا» الوتکو بندیز لا هم څه جواز او قانونیت لری ؟

زموږ دجگړه ځپلی هیواد په الوتکو د امنیت شورئ د ناروا بندیزونو پرخلاف کوفی انان هم خپل غږ پورته او له امنیت شورئ یې غوښتنه کړی چې نور په دې الوتکو لگیدلی بندیز پای ته ورسوی . ښاغلی کوفی انان تأیید کړی چې د دغو بندیزونو له کبله افغانانو ته ډیرې ستونزې پیښې شوی دی . که څه هم د بندیزونو په هکله کوفی انان مخکې لا چندان خوښه نه وه ورکړی خو وروستی غوښتنه یې ښه جدی ښکاری او دا ښایی دهغو اندیښنو په اساس وی چې وایی آریانا الوتکې د فنی افرادو او لازمو پرزو د نشتوالی له امله د بشپړې
۲ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
ټیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩
پست بکس : (٤٧١) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤٠۳۸۵/۷ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

بربادی په لور رواني دی . او داحقیقت خو هرچاته څرگند دی چي که له یوې خوا «آریانا هوایي شرکت» یوه ملي شتمني او دعامو افغانانو ملکیت دی چي دادی اوس د ظالمانه بندیزونو په اثر له تباهی سره مخ دی . له بلی خوا په داخلی او خارجی سطح هم عام هیوادوال د تگ راتگ په برخه کي له سختو ستونزوسره مخامخ شوی دی ، داځکه چي زمونږ هیواد په وچه کي راگیر او سمندر ته لارنه لری ، بل داچي د دغو بندیزونو له امله پستی خدمات ، د ناروغانو سفر او دارو درملو واردات په ځانگړې توگه ډیر زیانمن او له دې پلوه بیا هم عام ولس ته ډیر مشکلات جوړ شوی دی . اوس چی د ملگرو ملتو سر منشی کوفی انان په خپله امنیت شورئ ته په واضحو ټکو د بندیز ختمولو غوښتنه کړې او هغه یې دعامو افغانانو د ستونزو لوی عامل بللی نو د گرد افغان ولس پرخلاف د امنیت شورئ غرضی پالیسی لانبه بربنده او په دې کې نور څه شک پاتې نه شو چي د نړۍ سترو ځواکونو زمونږ د جگړه ځپلو او وچکالی وهلو هیوادوالو د لاکړولو او ځورولو په مقصد څه وړ چلند خپل کړی او دانساني خوا خوږۍ او بشری حقونو درواغجني ناري سورې یې له عملی اقداماتو سره څومره تو پیر لری . مونږ په داسې حال کې چې د کوفی انان دا غوښتنه د واقعیتونو سیی درک او د انسانی پرگنو په مقابل کې یو مناسب دریځ بولو ، یوځل بیا له امنیت شورئ او ټولو سوله خوښو او بشر پاله هیوادو غوښتنه کوو چي نور دې له کړیدلو افغانانو سره مثبت دریځ غوره او که مرسته نه وی نو له زیاتو ځوورولو خو دې لاس واخلی . د امنیت شورئ غړی هیوادونه باید په دې وپوهیږی چې د دغسې نړیوالو او قوی بی طرفه خواؤ له مخالفت سره سره د بندیزونو په دریځ لاهم ټینگ پاتې کیدل په یوازې او یوازې له گرد افغان قام سره د هغوی د بې ځایه سرټمبگی او ناروا دښمنی په مانا تعبیر شی او بس .

قارون څوک وُ

محترمو لوستونکو دامو اوریدلی دی چې تخت سلیمان «ع» ته پاتې نه شو او خزانې قارون ته؟

خو سلیمان «ع» زیات عمر درلود په انسانانو ، حیواناتو او پیریانوئی پاچاهی کوله . قارون دخزانو درلودو له امله په نړۍ کی ساری نه درلود خو له دې سره سره بیاهم سلیمان «ع» ته تخت پاتې نه شو او قارون ته خزانې ځکه دادنیا فانی ده او له آدم نه تردې دمه دهیچا ارمان هم نه دی وتلی ټول زړه چاودی له دې دنیا نه تللی او تلونکی دی . وایی چې قارون دموسی «ع» دکاکازوی وُ چې ښکلی ځوانی یې درلوده او دتورات په یاد ولو کی تر زیاتو بنی اسرائیلو مخکی وُ خو په جاه طلبی کی یې زیات افراط کاوه .

په بخل او حسد کی ئې هم زیاته برخه درلوده او تل ئې غوښتنه چې دبنی اسرائیلو کار گډوډ کړی .

خدای «ج» قارون ته ډیر زیات ثروت ورکړی وُ چې دده دخزانو کیلی ځوانو پورته کولی نه شوی خو ددی په ځای چې دهغه نعمت شکرئې پرځای کړی وائی تل به ئې خپل ثروت دبنی اسرائیلو نه رابوست او په هغه به ئې ویاړل . هر څوکه دبنی اسرائیلو پوهانو دنصیحت له مخی ده ته ویل چې ای قارونه ؟

ددنیا په مال او ثروت زړه مه تړه او مغروره مه اوسه ځکه چې خدا «ج» هغه کسان نه خوښوی چې ددنیا پر مال ئې زړه بایللی وی . هستی دخدای «ج» لاره کی لگوه ددې دنیا برخه هم مه هیروه او دخدای «ج» دخلکو سره هغه احسان وکړه چې خدای «ج» ستا په باره کی کړی دی . خو قارون ددوی خبروته غوږ نه نیوه او په جواب کی ئې ورته ویل :

«ماداډیر مال دخپل علم په قوت راټول کړی دی خدای «ج» زه ددې نعمت وړبللی یم او زما په مال کی دچا برخه نه شته او زما دمال په باب دنظر څرگندولو حق هم څوک نه لری . یوه ورځ موسی «ع» له ده نه دده دمال زکات وغوښته قارون دزکات په ورکولو کی بخل وکړ او دټولو جباراتو په څیرئې یوه حیله وسنجوله چې پرموسی «ع» پوری یو تور پوری کړی او بې آبه یې کړی .

نودشپې یې له یوې بدی ښځی سره مشوره وکړه چې سبا ورځ دې دغه ښځه دقوم په وړاندې موسی «ع» په زناتورن کړی .

هغه وُچې سهار دبنی اسرائیلو په یوه ټولنه کی موسی «ع» ته ورغی او ورته ئې وویل ، ایا په تورات کی نه دی راغلی چی زانی باید سنگسار شی ؟

موسی «ع» وویل ولی !! قارون وویل «نو ته باید د تورات په حکم وُ پخپله ستا په حکم سنگسار شی ، ځکه چې تا د پلانی ښځی سره زنا کړې ده . موسی «ع» هغه ښځه راوغوښته او هغې ته ئې قسم ورکړچې دقوم په وړاندی حقیقت بیان کړی . ښځی ویل [illegible] قارون واتی یو تور [illegible] شاهدی اداکو چی [illegible] او موسی [illegible] د قارون دفساد او [illegible] ورسیدلو [illegible] شیرا وکړی خدای «ج» [illegible] پیښه کړه چې [illegible] او خزانې [illegible] کړی نو [illegible] ددې څخه [illegible] صرف مال او [illegible] چې دادنیا [illegible] تلونکی [illegible] خوښه [illegible] لی خیر [illegible] په ادیان وی [illegible] کړی او [illegible]

کنفرانس اسلامی و مسئولیت هایش درقبال جهان اسلام

اسدالله «عبادی»

در تاریخ جهان ، قرن بیستم به مشابه سده مملو از فراز وفرود ، ایجاد حلقات و سازمانهای سیاسی ، اجتماعی و اقتصادی بوجود آورنده پیمانهای نظامی و دوقطبی گردیدن جهان ثبت گردیده است که روند تحولات و انکشافات بعدی به اساس موجودیت دو بلاك شرق و غرب بیانگر تشنج گرایی و تعمیم حاکمیت سیاسی آنها برجهان بوده است واضح است که موجودیت این پیمانها ، کشور های جهان سوم یا روبه انکشاف را تحت فشار های ناروای اقتصادی و سیاسی قرار داده و خواهی نخواهی از این یا آن بلاك متاثر گردیده اند .

جهان اسلام نیز از این قاعده مستثنی نمانده و این چالیش های سیاسی اثرات سوء بر آنها نیز بجا گذاشت . از سوی دیگر باشکل گیری مناسبات و ارتباطات نا مرعی جهان کفری علیه اسلام و زد و بند عیسویت و یهودیت در تبانی با رول غربی به تاسیس دولت اسرائیل درقلب کشور های عربی دست یازیدند . و یا غصب اراضی فلسطینیان و به رسمیت شناختن دولت اسرائیل و وقوع چندین جنگ اعراب و اسرائیل که در سطح بین المللی از حمایت و پشتیبانی عام و تام دول کفری و در راس امریکا برخوردار بود ، نقطه تشنجی را در شرقمیانه هسته گذاری کردند .

اینجاست که در اوائل دهه هفتم قرن بیست در ماه می سال ۱۹۷۱ میلادی سازمان کنفرانس کشورهای اسلامی بخاطر توسعه همبستگی اسلامی ، حمایت از مبارزات مسلمانان ، حفاظت از آبرو و حقوق ملی آنها و تحکیم همکاری های اقتصادی ، اجتماعی و فرهنگی در میان دول عضو ، بوجود آمد باتشکیل این سازمان و بمیان آمدن کمیته ها وبخش های مختلف ، فعالیت آن ابعاد وسیعی در سطح کشور های جهان اسلام کسب نموده طی سالهای نخست تصامیم و فیصله های این سازمان نوبنیاد جنبه عملی کسب نموده و اثرات مثبتی از خود بجا گذاشت ، تحکیم وحدت و یکپارچگی کشورهای اسلامی زنگ خطری بود به جهان غیر اسلامی که باید هرچه زودتر درپی تخریب و متوصل گردیدن به توطئه و سازش های بیشتر دربرابرهماهنگی مسلمانان میگردیدند .

امریکا بانزدیکی باکشور های اسلامی در پی نوازش های دشمنانه بر آمده و توانست با چالش های ریاکارانه توجه عده ئی از کشور های اسلامی را به خود معطوف دارد و با آنها مناسبات سیاسی و اقتصادی خویش را تامین نماید و با انتخاب مهره های کلیدی وکارساز به اثر گذاری مناسب سیاسی موفق گردد .

آنسوی دیگر کنفرانس کشورهای اسلامی با وجود بهره مندی از امکانات دست داشته در منعه اجراء از تاثیرات اند کی برخور داربود .

این سازمان به مشابه یك نهاد قوی و باثبات درقبال جهان اسلام عمل ننموده ، تصاویب و تصامیم آن در پرتو مناسبات و ارتباطات اعضا ی آن با جهان کفری ، محافظه کارانه و مصلحت اندیشانه بوده است . گرچه امروز که این سازمان باداشتن پنجاه و هفت عضو فعال از کشور های اسلامی به فعالیت خویش ادامه میدهد . اما می نگریم درهر کنجی از جهان ، کشور های اسلامی به مصایب ومشکلات فروانی مواجه بوده و اکثر کشور های اسلامی درجهان به نقطه داغ تشنج مبدل گردیده وزیر فشار جهان کفری دست و پا می زنند . [illegible] لبنان ، عراق ، [illegible] و [illegible] کشورها [illegible] دردها [illegible] ناروائی که [illegible] های [illegible] های کفری [illegible] گردیده است .

[illegible] کشور های [illegible] آن صرفاً با [illegible] یا تشبیح دیگر [illegible] نبرده و یا [illegible] مسئولیت خویش [illegible] تحرکی را که [illegible] سازمان کنفرانس [illegible] اسلامی [illegible] آنرا در عمل [illegible] تنها با [illegible] گذاره [illegible] کشور های [illegible] مسئولیت [illegible] سازمان [illegible] اسلامی [illegible] منافع واقعی [illegible] عمل نماید .

سخته وچکالی ، د تودوخی بې شانه لوړیدل او پرسیمه یې ناوړه اغیزه

اسد الله

کلنه وچکالی د افغانستان په تاریخ کې ساری نه لری که چیرې خدای مه کړه داوچکالی نوره هم دوام وکړی لوی بشری ناورین به رامنځ ته کړی د افغانستان او په تیره بیا د ننگرهار په ولایت کې ډیر داسې ځایونه شته دی چې حتی د څښلو اوبه نه پیدا کیږی او خلک مجبور دی چې ډیر لرې ځایونو په وهلو سره یواځې د څښلو اوبه راوړی ، زیاتره ونې وچې شوی دی د ډیرو کلونو راهیسې هیڅ فصل نه دی شوی خلک د سیند غاړې ته نږدې ځایونو او یا د کانال خپنو برخو ته مهاجر شوی دی .

د ملگرو ملتونو د یرې باوری احصائې له مخې په ننگرهار کې د وچکالی ځپلو سیمو کې دروداتو ولسوالی په لومړی درجه د چپرهار ولسوالی دوهمه درجه او د سره رود ولسوالی دریمه درجه تاکل شوی او دننگرهار زیاتی نورې سیمې هم د وچکالی تر تاثیر لاندې دی همدا اوس د پرله پسې وچکالی له امله د سرطان په میاشت کې د تودوخی درجه ٤٩ ته رسیدلي ده چي کله هم د تودوخې درجه دومره نه ده لوړه شوی چې د تودوخې د درجې د نوري لوړیدو ویره هم شته ده . د وچکالی له امله د دوړو او خاورو ، طوفانونه او بادونه زیات شوی دی او دغه راز ضرر رسوونکي سیلابونه هم زیات شوی دی خدای جل جلاله دې په خپل فضل او کرم د خیراو رحمت بارانونه وکړی ترڅو وچکالی پای ته ورسیږی په دې برخه کې د لوی خدای «ج» څخه خلکو باندی د رحم غوښتونکی یو ، ترڅو د رحم بارانونه وکړی او دامشکل په خپل فضل او کرم سره حل کړی .

د وچکالی تاثیرات د نړۍ په ډیرو هیوادونو کې شته دی خو په نړۍ کې ترټولو خراب حالت په افغانستان کې دی .

هغه ۳۳ هیوادونه چې د وچکالی او د خورو د ستونزو سره په نوی کال کې مخامخ دی عبارت له افغانستان ، تاجکستان ، د کانگو جمهوریت ، حبشه ، کنیا ، [illegible] سوډان ، [illegible] اذربایجان ، [illegible] عراق ، اردن ، ازبکستان [illegible] .

هسې اوس [illegible] ۳۲ [illegible] سره [illegible] او د [illegible] کموالی او [illegible] په اسیا کې [illegible] اسیا [illegible] افغانستان [illegible] په ۳۲ [illegible] خلک [illegible] دی [illegible] اسیا [illegible] دی چې [illegible] کې [illegible] تر ۱٤۰۰ [illegible] افغانستان [illegible] جگړو [illegible] کلنی وچکالی [illegible] له زیاتو [illegible] .

خلک د څښلو د اوبو د مشکل سره هم مخامخ دی .

په وچکالی کې کرنیز او طبیعی نباتات د اوبو د نشتوالی له امله له منځه ځی چینی او کاریزونه او حتی سیندونه وچیږی د انسانی ژوند تر څنگ د حیواناتو ژوند هم د تهدید سره مخامخ کیږی . وچکالی یوه بشری ستونزه ده چې د نورو اقتصادی او روغتیایی ستونزو تر څنگ لوږه فقر ، قحطی ، مهاجرتونه ، او مړینې رامنځته کړې .

وچکالی د تودوخي درجه لوړوی باید د ځنگلونو د یرې کولو او څرځایونو د تخریب او له منځه وړلو مخنیوی وشی د ستونزو سره مقابله د هرچا له وسه پوره هم نه ده بالخصوص د هغه هیواد د خلکو لپاره چې ۲۳ کلونو کې هیواد د جگړو له لاسه ځپل شوی وی باید ملگری ملتونه ، خیریه موسسې او نړیوال بزگرانو سره د وچکالی له امله مرستې وکړی اوسنی پرله پسې دری

نغلو ، درونټې ، سروبی ، چک ، جبل السراج او پلخمری د یادولو وړ دی ، د درونټې بند د ننگرهار د کانال د څلورو فارمونو څه ناڅه ۳۱ زره هکتاره دولتی او شخصی ځمکې خړوبوی له بلې خوا د وروستیو دوه لسیزه جگړو له کبله کلی ، ښار ، ځنگل او علمی موسسو څخه نیولی بیا تر ټولنیز او کلتوری محیط پورې زمونږ د ژوند بیلابیلو ډگرونو ته ډیر زیات زیان اړولی دی .

له بده مرغه په دې برسیره په وروستیو دریو کلونو کې زمونږ هیواد سختی وچکالی نور هم زیاتمن کړ او دخلکو د اقتصادی ژوند سطحه یې ډیره ټیټه کړی او د نشت سره یې برابره کړه .

که چیرې زمونږ د هیواد د سیندونو څخه خپله په هیواد کې گټه اخیستل شوی وای نو په هغه صورت کې به بیا وچکالی تاثیر نه درلوده اوس د هیواد په زیاتو برخو کې حتی افغانان د برښنا د مشکل او نه یه هم د اقتصادی ستونزو سره مخامخ شی .د افغانستان د سیندونو ۷۵٪ اوبه د هیواد څخه له استفادې پرته بهر ته ځی ، د آمو سیند په یوه ثانیه کې ۲۰۰۰ مکعب متره اوبه ، دکونړ سیند په یوه ثانیه کې ۳۷۳ مکعب متره د هلمند سیند په یوه ثانیه کې ۲۰۰ مکعبه متره اوبه لری د هیواد د لویو او مشهورو سیندونو شمیر د ۲۵ څخه هم زیات دی چې مشهور بندونه یې دکابل سیند ، کونړ ، آمو ، هلمند ، لوگر ، علیشنگ ، النگار ، پنجشیر ، فراه رود ، ارغنداب ، ترنک ، ارغستان ، مرغاب ، هریرود ، یخ آب او نور ، د آمو حوزه ۵۸۲۰۰ کیلومتره کرنیزې ځمکې خړوبوی د هریرود حوزه ۷۵۸۰۰ مربع کیلو متره د هلمند حوزه ۳٤۰۰۰۰۰ متره مربع ځمکه خړوبوی او دکابل حوزه د کرنې برسیره د برښنا فابریکې جوړې شوی دځواحصائیو له مخې افغانستان دموجوده برښنا څخه پرته ۹۰ دومره برښنا نورهم تولیدولی شی په هیواد کې د کجکی بند ، ماهیپر ، اوبه د ژوند لپاره یوه ضروری او حیاتی اړتیا ده انسانان ، نباتات او حیوانات په اوبو ژوندی پاتې کیږی او د ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند وریورې تړلی دی .

داچې زمونږ گران هیواد یو کرنیز او غرنی هیواد دی چې ۸۵٪ خلک یې په کرنې او مالداری بوخت دی ، له یوې خوا په افغانستان کې بزگران د خپلو ځمکو په خړوبولو کې ۸۰ فیصده له چینو ۷۰٪ له کاریزونو څخه کار اخلی په افغانستان کې ۲۵ .۳۲٤۰ هکتاره ځمکه تر کرنې لاندې ده له دې جملې څخه ۲۵ .۲۱٤۹ هکتاره له نیمایی څخه لږ زیاته کرنیزه آبی ځمکه او ۱.۹۱ هکتاره للمی ده .

په افغانستان کې د سیندونو کلنی مجموعی جریان ۵۵ . ۵۰ ملیاردو مکعب مترو ته رسیږی داچې افغانستان مست او ځپانده سیندونه لری خو له بده مرغه د تاریخ په اوږدو کې تر ډیر خپله افغانانو گټه نه ده اخیستی او مرور ترې بهر روان دی که چیرې د دې سیندونو څخه خپله افغانان گټه وا خلی نو بیا به وچکالی تاثیر ونه لری او نه به

دساینس نړۍ

د سر درد په باب څېړنې

انگلیسي او هالندي ډاکتران وايي : هغه کسان چې په اونۍ کې له دوو څلو زیات په سر درد اخته کېږي خامخا دي متخصص ډاکتر ته ورشي .

د دغو پوهانو د نویو څېړنو له مخې په پرله پسې ډول د سر درد ځې ډرمل خوړل په ماشومانو اولو بانو کې منفي اغېزې رامنځته کوي .

پوهان دې نتیجې ته رسیدلي چې د مخدره موادو په څېر د سر درد درملو خوړل د ورو ورو سبب گرځي ، په ناروغ ناوړه اغېزه کوي او د سر درد بیا تکرارېږي .

استفاده از ماده در وجود انسان برای کنترول [illegible]

دانشمندان المانی و فرانسوی برای کنترول دردهای تشدیدی در وجود انسان از یکنوع موادی استفاده می کنند که به طرز طبیعی درخود بدن تولید می شود .

این دانشمندان دریافته اند که سیستم معافیت بدن انسان یگانه لشکر دفاعی نیست که در وجود برخند باکتری ها و میکروب ها میرزمد بلکه این سیستم اردوبی برای مقابله با درد ورنج موجود دربدن آدمی است که از طریق حجرات خون به بسیار سرعت خود را درمحل آسیب دیده و مجروح بدن میرساند . این سیستم معافیت همرای خود یك ماده طبیعی را که برای بیهوش کردن محل درد به کار میرود انتقال میدهد . این ماده که به طرز طبیعی در بدن انسان تولید می شود خطرات [illegible]

موترهای هشدار دهنده به بازار می آید

طراحان جاپانی نوعی موتری ساخته اند که موتر رانی درجاده ها را مصئون [illegible] میسازد این موتر به شکلی طراحی شده است که اگر موتر ران بد راننده گی کند از ادامه رانند گی او خود بخود جلوگیری می کند طراحان این موتر می گویند در بخشهای داخل این موتر [illegible] های هشدار دهنده نصب شده است که درصورت بالا رفتن بیش از حد سرعت موتر ران هشدار صادر میکند اگر [illegible] این هشدار را نا دیده بگیرد [illegible] هوشمند موتر اختیار راندن موتر را از موتر ران خارج میسازد .

تاجائیکه موتر [illegible] متوقف می شود این طراحان [illegible] اند که با بکار گیری این نوع [illegible] هم از بروز حوادث [illegible] و مرگبار [illegible] میشود و هم انسان [illegible] از آن به مصئونیت [illegible]

فابریکه هائی که به [illegible] وفروش موتر [illegible] این نوع موتر ها [illegible] وهم اکنون فرمایشات متعددی [illegible] های جاپانی برای [illegible]

تشخیص بیماری های جگر

دانشمندان طب در انگلستان روش [illegible] را برای درمان بیماری های ریوی [illegible] کرده اند ، با استفاده ازین طریقه [illegible] داکتران می توانند آب دهان مریض [illegible] آلات پیشرفته طبی تحت [illegible] قرار دهند وبا استفاده از رنگ آب [illegible] نوع بیماری را تشخیص دهند .

[illegible] این کار را آغاز کرده [illegible] از رنگهای مختلف آب دهان انسان را تهیه کرده که [illegible] رنگ [illegible] رنگ سبز تیره و [illegible] دانشمندان [illegible] عفونت در جگر [illegible] رنگ آب دهان آن [illegible] باشد . این روش [illegible] به داکتران [illegible] برای مریضان [illegible]

د بورې زیانونه

بوره په معده کې د اسیدو د [illegible] او انفعال د تولید او [illegible] مالگو د نه لرلو له امله [illegible] له ما څخه [illegible] له غابنو [illegible] له معدې اکسیجن [illegible] او بدن ورو ورو [illegible] مخامخ کیږي .

«ق . [illegible] ور»

تابلیت های ضد بار داری حیوانات !

مطبوعات استرالیا [illegible] داد که دانشمندان آن کشور [illegible] از سال ها تحقیق [illegible] های ضد بارداری را برای جانوران ابداع کرده اند [illegible] انها می توانند [illegible] نسل روز افزون جانوران را مهار سازند . بقول مطبوعات محلی استرالیا این کار برای [illegible] شده که از [illegible] افزون نسل خرگوش [illegible] کانگرو جلوگیری شود [illegible] دیعلاقه [illegible] کشور خواستار چنین اقدامی [illegible] دانشمندان استرالیا [illegible] بودند .

یك مسئول بخش [illegible] در استرالیا گفت وجود [illegible] از حد اینگونه جانوران همچون [illegible] برای استرالیا [illegible]

«ا.ن»

خنده [illegible] با کمپیوتر

شخصی دارند گفته اند که وقتی با کمپیوتر سرگرم هستند بکلی می [illegible] . اما برای بسیاری از مردم موقعیت های پیش می آید که خنده آن ها تبدیل به گریه می شود و اعتراف کرده اند که کمپیوتر خودرا سلی می زنند و بعد گریه می کنند .

یك شرکت کمپیوتری در کشورهای هسپانیه ، سویدن ، بریتانیا و فرانسه این تحقیق را انجام داده ، علاوه بر گرد آوری اطلاعات [illegible] که یازده ساعت آن ها را در [illegible] روز احتوا می کند بیست فیصد [illegible] ها گفته اند که کمپیوتر شانرا نوازش می کنند ، حدود هفتاد فیصد کمپیوتر داران المانی گفته اند که سرگرمی با کمپیوتر را بیش از هر چیز دیگر ترجیح میدهند حالا معلوم شده که کمپیوتر جزءاز اساس زندگی روز مره اروپایی ها شده است .

«ا.ن»

زمرد ها گرانبها ترین سنگهای جهان

با استفاده از یك تخنیك جدید لابراتواری که توسط یك زمین شناس فرانسوی و همکارانش انجام گرفته است ، معلوم گردیده که یك تعداد از زمرد های جهان که فکر می شد در آن زمان از معادن قدیمی بدست آمده اند حقیقت نداشته بلکه از کشور های امریکایی کولمبیا و از جنوب آسیا خصوصاً از افغانستان بدست آمده است کسران گریانی که این لابراتوار را در مرکز تحقیقات سنگ نگاری و تحقیق بر ترکیبات کیمیاوی انجام داده می گویند ما به چهار زمردیکه فکر می شد از آن معادن شهرت یافته جهان بدست آمده اند دقیق شدیم و به این نتیجه رسیدیم که سه نوع زمرد اساساً از کولمبیا بدست آمده بود و زمرد چارم از افغانستان بود که این نیز مایه تعجب بود زیرا بیشتر این معادن رسماً در قرن بیستم کشف شده بودند وی می گوید تحقیقات ما ثابت ساخت که از ذخایر زمرد در دره پنجشیر افغانستان بسیار پیشتر از قرن بیستم استفاده به عمل آمده است . بر اساس این تحقیق زمرد تحت بماران الکترون ها قرار می گیرد و با این عمل اتم یا ذرات اکسیجن را برای تجزیه و تحلیل از زمرد جمع آوری و از آن خارج میسازند .

دانشمندان می گویند طی چار هزار سال زمرد ها از گرانبها ترین سنگهای جهان بشمار رفته که مصری ها ، رو من ها ، مغل های هند ، سلاطین اروپا از آن تمجید کرده اند . «ا.ن.و»

په پښتو شعرکې مذهبي څرگونه

دنبـات لـېکنـه او څېـړنـه

۱۵

خوشحال خټک د حضرت محمد «ص» د معجزو په متعلق چې لوی خدای ورته د خدايي د ثبوت او د پیغمبری د حقانیت په خاطر د یو خارق العاده عمل په څېر ورکړی ، داسې څو بیلگې په ډېر مشکل او بې پیرانه کې ورانډې کوي ، چې د دغو معجزو د معرفي کولو له پرکته یې د خوشحال خټک شعر ته د هنري اعجاز مقام ورکړی دی :

چې یې مباشت کړه د اسمان د پاسه شقه
چې آفتاب یې رابیکاره کړ له شفقه
چې په سرباندي ابر سایبان ؤ
چې یې پاتې جبرائیل شو له اَسبقه
چې خوري یې دخولي لارې تر عسلو
چې همه علم یې زده شو بې سبقه
چې جمال یې شایسته په ملاحت ؤ
چې د مشکو بوی یې هیڅ ؤ تر عرقه
چې سایه یې د وجود په مزکه نه وه
چې پره ورته گویا شوه له طبقه
چې یې تار په تار د باد پر مخ خواره کړل
د تورات او د انجیل وارهٔ ورقه
دواړه کونه په طفیل چې د هغه دي
مرتب او مهیا په ډېر رونقه
چې دوستدار د څلوریار د اهل بیت دي
په هغو د نبوگواهي ده له مطلقه
چې غرب یې وثنا ته نه رسیږي
د خوشحال ژبه مشهود کاندي ناحقه
(پورتنی اثر ۲۲۸ مخ)

د خوشحال خټک په پورتني نعتیه کلام کې د هغه د قلم او هنري شهکاری بیلگې ښې څرگندې دي او که ووایو چې دوی په هر یو بیت کې د انحضرت «ص» لوړ صفتونه او نبوي معجزې چې هر یو ځانته اوږد شان نزول لري ، په ډېر لوړ هنري ظرافت داسې ځای کړي دي لکه چې چا په خارق العاده توگه سمندر په څاڅکي کې ځای کړی وي خوشحال خټک د حزب الله یعنې «غالب حزب» د ربانی مذهب او اسلامي الهي د شتملو پیروانو د لوی خدای د مینې په سمندر کې د غرقو عارفانو او سالکانو اولیاؤ او درویشانو روحاني مقام هم د ژبانی ستاینې او درناوي ور بولي او وایي :

حوک چې مخ کا په مذهب د خیل مولا
د هغو په خدمت ودروي دنیا
څوک چې مخ په تمر روان شي خودې گوري
چې سایه د ر پسې د رومي په قفا
درویشان که اشارت وکا وغره ته
دغره کاڼي به هم شي لکه طلا
چې کیمیا کیمیا یادیږي په جهان کې
کیمیا څه ده ؟ سه نظر د اولیا
که د تخت د پاسه ناست وي صاحبي کا
د درویش په زړه کې هیڅ نه وي هوا
خبري ، رنگ ورځني ښن نه دي چا وللي
د درویش جامه له ځایه ده صفا
مړه دوه دوي نه ، ژوندي وي ژوندي مړه دوي
د درویش هومره قوت دی د دعا
مگر جبري د درویش په مهر یاد شي
چې خوشحال یې کړ داهسې بې نوا
(پورتنی اثر ، ۱۰ مخ)

پاتې لري

[illegible] لانات

احمد سعید رئیس شرکت خلیل کریم حاضر شده تا از جمله نود وشش قلم پرزه جات مورد ضرورت سال ۱٤۲۲ وسایط تصدی ملی بس را مرتبه اول بیست وشش قلم آنرا به قیمت مجموعی مبلغ پنجصد و پنجاه وهفت ملیون وششصد و پنجهزاروسه صد افغانی بعد از وضع دوفیصد تخفیف قرارداد نماید .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات ریاست تصدی ملی بس بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۷-٤-۱٤۲۲ تا ده روزه مراجعه نمایند شرطنامه ولست را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

شرکا ، ماما طاهر وبشیر شش قلم البسه باب مورد ضرورت ریاست عمومی استخبارات را به قیمت مجموعی مبلغ چارصدونود [illegible] ودوصدو هشتاد و هشت هزارو پنجصد افغانی نرخ داده است .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت قرارداد های ریاست لوژستیك استخبارات مقابل ولایت کابل بسپارند و خود شان از تاریخ ۲۷-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه و لست مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

ریاست ترانسپورت سکتور خصوصی نودوشش باب دکاکین ، یك باب هوتل ویك باب دوکان جوار سیلو مرکزی ملکیت خویشرا به کرایه میدهد .

اشخاص وموسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا داشته باشند [illegible]

[illegible] شهر نو بسپارند و خود شان از تاریخ ۲۷-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد .

***

ریاست عمومی استخبارات طی سال جاری به مقدار دوصدو پنجاه ودو هزارو پنجاه وچهار کیلو چوب سوخت بلوط پوستدار خشك و مقدار یکصدوسی هزار وسه صدوهشتادوپنج کیلو چوب سوخت ارچه خشك ضرورت دارد .

اشخاص و موسساتیکه خواهش قرارداد انرا داشته [illegible]

باشند درخواست [illegible] خویشرا بمدیریت [illegible] ریاست لوژستیك استخبارات مقابل ولایت کابل [illegible] وخود شان ازتاریخ ۲۷-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه [illegible] نمایند شرطنامه [illegible] مشخصات را ملاحظه کرده [illegible] میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

ریاست [illegible] انکشاف دهات [illegible] لندکروزر [illegible] شش سلندره [illegible] مسلح [illegible] افغانی [illegible]

[illegible] های خویشرا بریاست اداری احیا و انکشاف دهات واقع تعمیر ریاست الوزراء بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۷-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد .

***

محمدفهیم فرزند فقیر محمد یکباب دوکان نمبر۳ واقع مکروریان سوم الف مربوط ریاست تصدی تدویر و مراقبت مکروریان ها را ماهانه مبلغ دوملیون وچهار صدوپنجاه هزار افغانی برای مدت دوسال طور قرارداد به کرایه میگیرد .مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت اسناد و ارتباط تصدی تدویر و مراقبت مکروریان ها واقع بلاك ۲۳ مکروریان ۱-۲ بسپارند و خود شان از تاریخ ۲۷-٤-۱٤۲۲ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

[illegible] فرزند ادم خان وکیل [illegible] فرزند جان گل دوباب دوکان مربوط معینیت سرحدی وزارت امور سرحدات و قبایل واقع شهرنو را ماهانه هر یك مبلغ سه صد هزار افغانی برای مدت یکسال به کرایه میگیرند .

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت امور سرحدات و قبایل بسپارند وخود شان از تاریخ ۲٦-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

راغلی لیکونه



دافغانستان بانک دپام وړ!
امارتی مامورین ډیر بی خرڅه دی !
مامور خوا څک هود خپل مورته داسی لیکی:
دشریعت ورځپاڼی چلوونکو !
السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته !

لوی خدای مو دافغان کړیدلی ولس په سمه لاربښوونه، دمسئولینو او مشرانو متوجه کولو او دمامورینو په شان نورو بیچاره وګړو دحقوقو نه دفاع کولو کی لاریالی لره ځ چی په یوه رسمی اداره کی دمامور په حیث کارکوم او همدغه دماموریت معاش می دژوند یوازنی ذریعه ده، ځکه په ځان کمزوری او ناروغ یم چی کوم بل کارمی له وسی نه دی پوره او تولو کورنی او بال بچ مې همدی تنخواه ته سترګی نیولی وی نو خامخا به دمعاش په څنډیدوله ډیرو مشکلاتو سره مخامخ کیږم. باوروکړی همدااوس چی له ډیرو میاشتو راهیسی می تنخواه څنډلی، دشپی وری او دورځی له پورورو پټ ګرځم. باید ووایم چی زما ملګری نو رمامورین هم په همدی برخلیک اخته او ټول همداکیسی کوی او یقین لرم چی دټولو مامورینو اقتصادی حالت همدغسی کمزوری اوسخت بی خرڅه دی، نو په دی اساس دافغانستان بانک له محترمو مسئولینو هیله کوم چی دپیغمبر علیه السلام له مبارک حدیث سره سم چی وایی « مزدورته دهغه له خوله وچیدو مخکی خپل اجرت ورکړی » دامارتی مامورینو دمعاش څه غم وخوری ځکه دامارتی نورو لګښتو نو په نسبت دمامورینو معاش ډیر کم شی دی نو په کار ده چی دمعاشونو اجرا، ته لومړیتوب ورکړی.

والسلام علیکم

مامور خوا څک هود خپل !

خدای دې دی روغ لره! داچي مورږ هم په دي ستونزه کي بوشان درسره شریک یو نو دادی ستاعرض مو چارواکو ته ورساو، که ورځپاڼه ولولی نو انشا الله ددریوواړو میاشتو به یوځای اجرا، کړی.

اداره

دخیریه موسسو دپام وړ:

زموږ یو بل دوست ښاغلی محمد لقمان وردګ له دعا او سلام نه وروسته دوردګو دچک ولسوالی بده ورځ بیان کړی، دوچکالی شکایتونه یی کړی اوله ټولو خیریه موسسو یی هیله او غوښتنه کړی چی که څه خیر ښیګڼه یی له لاسه کیږی نو صرفه دی نه کوی، ځکه دچک شینکی سمسوره دره اوس په ډیره بده ورځ ده، ښایی فصلونه یی تباه باغونه وچ او دنیستی له لاسه کډه کوچ ته مجبور شی نوګوری ددغو بیچاره خلکو په سم وخت غم وخوری او په دی ډول دیو لوی مصیبت مخه ونیسی، نوموړی وروړله یو شمیر موسسو نه ګیله کړی چی د ډیرو مرستو او پروګرامونو وعدی یی وکړی خو عملاً تراوسه هیڅ هم نه دی شوی. همدارنګه دیو جومات جوړیدو خبره یی هم یاده کړی چی وایی دخلکو دناوسی له کبله نیمګړی پاتی دی نوخدای دی وکړی چی څوک سخیان راپیدا اونه یوازی له چک ولسوالی بلکی دهیواد له نورو وچکالی ځپلو سیمو سره هم ښی په خلاص مټ مرستی وکړی او دبیچاره ګانو دعا واخلی

په پاکستان کی ...

خو ځینی هغه ستونزي او مشکلات چي په افغانستان کې وچکالی او دملګرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د ظالمانه بندیزونو له امله رامنځته شویدی هغه مهاجرین او مجاهدین چي لاتر اوسه پوري هم په بهر کي ژوند کوی دهغوی په بیرته ستنیدو کي ځنډ پیدا کړیدی .

که څه هم د مهاجرینو ستونزی او مشکلات اوس زیات دی او هیلی شته چي انشا الله د دغو ستونزو او مشکلاتو په حل کولو سره ټول افغانی مهاجرین خپل هیواد ته راستنیږی .

په مقابل کي د ریاست الوزرا، اداری مرستیال محترم ملا محمد حسن اخند د هیواد د اوسنی حالت په اړوند خبری وکړی او وی ویل د افغانستان اسلامی امارت په ډیرو سختو شرایطو کي چي زموږ هیواد له توټي توټي کیدو تجزیی او له ډول ډول ناخوالو سره مخامخ ؤ د طالبانو د سرښندنی او ځان تیریدنی په برکت چي د مجاهدینو بشپړ ملاتړ ورسره ؤ په هیواد کي بریالیتوب ته ورسید او دخلکو د ستونزو او مشکلاتو د لری کولو په خاطر یي په بیلابیلو خواوکي په ګټورو او رغنده اقداماتو لاس پوري کړ او هغه مجاهدین او مهاجرین چي د هیواد د دفاع په لاره کي یي هجرت کړیدی او ستونزی اومشکلات یي ګاللی دی خدمت ته تیاریو . او له هرراز توپیر پرته مو د افغانی مهاجرینو دستونزو او مشکلاتو دحل کولو په لاره کي هڅه اوهاند کړیدی او کوښښ کوو چي د هیواد په دننه او بهر کي ټول افغانی مهاجرین او مجاهدین پتمن ژوند ولری .

اسلامی امارت ...

په دي شرحه یو لیک لیږلی دی .

ښاغلی کوفی انان !

د ملګرو ملتو د سازمان سرمنشی

خوښ یم چي خپلی ښی هیلی تاسي ته وړاندی کوم د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزارت د خپلو تیرو اړیکو په رڼا کي په وار وار د ملګرو ملتو سازمان او نړیوالو ټولنو ته بلنه ورکړیده هغه واقعیتونه او دخلکو ستونزي او مشکلات چي دجګړو او د وچکالی له امله رامنځته شویدی او دنویو مهاجرتونو سبب ګرځیدلي برابر کړیدی په پام کي ونیسی او دهغوی په حل کولو کي مرسته وکړی .

د دي پرځای چي د ملګرو ملتو سازمان د افغانستان دمظلومو خلکو لاس نیوی کړی وای د بو اړخیزو او ظالمانه بندیزونو په لګولو سره یي د افغانستان د بي وزلو خلکو ستونزی او مشکلات لا پسی زیات کړل ځکه منفی اغیزی یي یوازی عام خلکو ته متوجه دی د اریانا افغان هوایی شرکت د الوتکو په الوتنو سره چي د هغو په واسطه د عمري حج اداکول ، پوستی خدمتونه او دخلیج له هیوادونو نه دبندیانو لیږدونه دسپرلیو او ناروغانو او دارتیا وړ لومړنیو موادو او دضروری درملو لیږدونه ترسره کیده د دغو ناروا بندیزونو په نتیجه کي دا ټول بند شول او دخلکو بشری مشکلات یي زیات کړل .

د غه عمل په داسی حال کي ترسره کړای شو چي د ملګرو ملتو سازمان د غه واقعیت د سر په سترګو وینی هغه دریغ چي اوس ستاسی لخوا غوره شویدی او دخبری منابعو له لاری خپور شو داچي د اریانا افغان هوایی شرکت د الوتکو الوتنی له بندیزونو څخه معاف دی او دی اجازه دی ورکړای شی چي خپلي ترمیماتي او اکمالاتي چاري بشپړي کړی ځکه بندیزونه د خلکو په ژوندانه باندی منفی اغیزی کړیدی او د بندیزونو اغیزی پرله پسی وچکالی او کورنی جګړو لاپسی زیاتی کړیدی یو پرځای اقدام دی .

دافغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزارت ستاسو د واقعبینانه دریغ هر کلی کوی او هیله لری چي غړی هیوادونه د دغو واقعیتونو په رڼا کي ددغه دریغ ملاتړ وکړی او د بشری ستونزو او مشکلاتو د لری کولو په خاطر افغانستان سره مرسته وکړی له وخت نه په استفادي سره ستاسو د روغتیا په هیله .

دکابل جلال آباد ..

دجلال آباد ل، نوی لاری داسی راپور راکوی . پـدی ورستیو ورځو کی دفواید عامی وزارت ، ملی سوداګرو او موټرچلوونکو ترمنځ داسی پریکړه وشوه چی دوی ټول یو بل ته لاسونه سره ورکړی ترڅو له کابل تر جلال آباد پوری لویه لاره په پاخه او اساسی ډول جوړه او دهیوادوالو ستونزو ته دپای ټکی کیږدی . چی څه موده وړاندی داکار په عملی ډول پیل شو موږ هلته ولیدل چی ځینی وسایط په کار بوخت ؤ خو باید ووایم چی دموټر وتګ راتګ ښه ډیر ؤ او له هرموټر نه دخپل مال په اندازه دلاری جوړولو بسپنه اخیستل کیده له ځینو موټر چلوونکو او سپرلیو دلاری جوړیدو په اړه وپوښتل ښه خوشحاله ښکاریدل اومحصول ورکولو ته هم چمتو، ؤ داکار باید ګړندی شی ترڅو ستونزی ژرحل او نور افغانان هم خودایی هم ویل چی دی کارته وهڅیږی او دخپلو لویولارو په جوړولو لاس پوری کړی .

محمد رفیق « عزت »

په کابل کي دکندهار.

اطلاعاتی آژانس دالمپیک دملی کمیتی دیو مسول خبرځای له خولی خبر راکړ، دکندهار ولایت دفتبال تیم چی دمرکز دفتبال له تیمونو سره یو لړ دوستانه لوبو دترسره کولو لپاره کابل ته راغلی دی دتیری شنبی په ورځ دکابل ورزشی لوبغالی په ډګرکی داتحاد له تیم سره په خپلی لومړنی لوبه کی له ورزشی شرعی تولنیزو او اداری قوانینو څخه یو لړ سرغړونی وکړی چی دالمپیک دملی کمیتی لخوا دکندهار ولایت دفتبال تیم ددوو ورځو لپاره له لوبو څخه بی برخی کړی شو او سپورتی سزاهم ورته ورکړ شویده .

دالمپیک دملی کمیتی دکمیسیون غړی محترم استاد شمس دکندهار ولایت دفتبال تیم دسرغړونو په اړوند وویل بیا دغه تیم دالمپیک دملی کمیتی دهیلی او غوښتنی پرخلاف دخپلو اړوندو لیږدونکو وسایطو په سپرلی لوبغالی ته داخل شویدی او سره له دی چی بیا بیا ورته تینګار او تفهیم شو چی له عکاسی څخه ډډه وکړی شرعی او امارتی مقررات رعایت کړی خو دوی دلوبو دبهیر عکاسی وکړه دوویل برسیره پردی دغه تیم دورزشی مقرراتو پرخلاف دفتبال دلوبو په بهیر کی په سلګونو لس زره افغانیګی نوټونه په هواکی خوشی کړل او دلوبی وخت یی ضایع کړ چی ددغی حق تلفی له مخی دتاکل شوی وخت تر وروستیو شیبو پوری دوام ونه کړاولوبه دیوه په مقابل کی په یوه سره پایته ورسیده

دننګرهار ...

څلورسوه اتیا افغانی عاید ترلاسه شویدی .

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ یوازی دننګرهار ولایت په مربوطاتو کی او لس کانونه او څلویښت تولیدی فابریکی شته چی دکانونو په را ایستلو او دفابریکو دتولیداتو د سطحی په لاره کی دتیرو وختونو په پرتله زیاته پاملرنه شویده او دروان کال په بهیر کی څه دپاسه دوه ملیارده دری سوه نولس ملیونه افغانی عاید ترلاسه شویدی

کار جویچه ها ...

کابل دیروز از جریان کار ترمیم جویچه ها که به شکل پخته و اساسی از سوی موسسه مبارزه علیه گرسنگی در مقابل غذا مجدداً اعمار میگردد دیدن نموده برای تسریع امور به مسولین هدایات لازم ارایه نمود در این پروژه به طول دوهزار وششصد دوسی وچهار متر جویچه های اطراف سرک از سوی موسسه یاد شده و به طول نه کیلو متر سرکها آن منطقه از سوی موسسه هیبتات جغل اندازی میگردد که مجموعاً سه صدوهفتاد نفر در این پروژه کار میکنند .

به اثر محدودیت ...

هرات خبرداد .

از ده روز بدینسو روزانه بین دو الی سه هزار مهاجرین افغان مقیم کشور ایران از طریق مرز اسلام قلعه به علت وضع محدودیتهای نامناسب کاری واخراج اجباری شان از فابریکات وکارخانجات توسط مالکین وصاحبان کار درایران دوباره به افغانستان عودت مینمایند این درحالیست که چندی پیش یک گروپ از جوانان ایرانی برمهاجرین افغان درشهر اصفهان حمله نموده وتعداد از مهاجرین افغان را طور خشونت امیز بدون دلایل موجه زخمی ولت وکوب نموده اند.

په چاریکارکی ...

مارو قوماندانانو بي غوښتنه کړي ترڅو د هغو کسانو باغونه او درمندونه وپیژنی چي خاوندان یي فی الحال د اسلامی امارت تر واکمنی لاندي سیمو کي اوسیږی چي په دي توګه به ناظران او بزګران د دغسی خلکو د درمند او میوو پلورلو هیڅ حق نه لری او جبراً به یي دسیمي قوماندانانو ته تسلیموی .

که څه هم د جګړه مارو په سیمه کي له څو کلو راهیسی دا چلند دوام لری خو اوس د سیمي یو شمیر سپین ږیرو او مشرانو په دي کار ډیر بد ویلی او دایی د افغانستان د کړیدلی ولس پرخلاف یو ستر جنایت او لوی ظلم بللی .

د سیمی اوسیدونکی وایی چي مسعود په دي ډول د خپلو جنګیالیو اړتیاوي پوره کوی . ځکه نوموړی دشمالی خلکو سره بی خوندی او ترینګلی اړیکی لری او نه غواړی د پنجشیر د جنګیالیو په شان بي په ډیرو پیسو او وسایلو وپالی . ددي خبری یو ښه دلیل داهم دی چي د پنجشیر جنګیالی لګیا دی په چاریکار او شاوخوا سیمو کي غلی ، میوي او هر ډول خوراکی شیان په بیه اخلی او پنجشیر ته یي وړی .

یک گروپ اخلال ...

گان آنولایت یک گروپ از اخلال گران نظم عامه درمربوطات ولسوالی لعل وسرجنگل آنولایت را سرکوب نمود، که دوتن آن کشته وسه نفر دیگرآن زخمی گردیده اند.

یک منبع مسؤل امنیتی گفته است گروپ متذکره درتبانی وهمدست با مخالفین از چندی بدینسو درمناطق ولسوالی لعل وسرجنگل مخفیانه به آزار واذیت مردم وباشنده گان ولسوالی متذکره پرداخته ومیخواست درنظم عامه وامنیت آن منطقه مشکلات را بوجود بیا ورد که خوشبختانه دیروز دریک برخورد قاطعانه موظفین امنیتی آنولایت سرکوب وبه جزای اعمال شوم شان رسیدند .

دوالیبال لوبی ...

څیلی لوبی کوی دناصر الکوزی په مالی مرسته چلیږی . د هغو لوبو په نتیجه کي چي پرون له غرمی وروسته د کابل پوهنتون په جمنازیوم کي ترسره شوی د چهاراهی قمبر د والیبال لوبډله دری د صفر په مقابل کي دکابل پوهنتون د والیبال په لوبډلی بری ترلاسه کړ . وروسته د ناصر الکوزی او براداران د لوبډلو تر منځ لوبه یو دیو په مقابل کي په مساوی توګه پای ته ورسید . په نظر کي ده چي دغه لوبی به یوه اونی روانی وی د لوبو په پای کي به د ناصر الکوزی لخوا په ګټونکی لوبډلی نقدی جوایز او سوغاتونه وویشل شی .

عبدالقادر محدران

اظهارات کوفی انان و عکس العمل مردم

خواهر سیمین کارمند طبی :

کجاست چشمانی که تأثیر تعزیرات را مشاهده کند

ادامه تعزیرات بالای شرکت هوایی آریانا تأثیرات منفی برزنده گی مردم افغانستان دارد اما کجاست آن چشمی که این تاثیرات را مشاهده نماید وکجاست آن گوشهای که صدای مردم بیچاره این سرزمین را بشنود .

درحالیکه امارت اسلامی بارها این مسأله را ازطریق مطبوعات داخلی وژورنالیستان خارجی به گوش جهانیان رسانیده اما تا امروز جهانیان بدون احساس بشری با دوچشم به طرف مادیده و آنرا نادیده میگیرند ما از جامعه ملل میخواهم هرچه عاجلتر به این تعزیرات خاتمه دهد و از ابراز نظر کوفی انان پشتیبانی مینمائیم .

احمد شعیب دوکاندار در شهرنو :

جامعه ملل باید هرچه زودتر مشکلات مردم را در نظر بگیرد

تعزیرات شورای امنیت بر شرکت هوایی آریانا ضربهٔ است بر زنده گی مردم عادی این کشور زیرا طیارات اریانا طی پرواز های خویش تنها مردم عادی افغانستان را از یك جابجای دیگر انتقال نمیداد بلکه همواره مواد مورد ضرورت اولیه مردم ،ادویه جات و خدمات پستی را انجام میداد که امروز ما با وضع این تعزیرا ت باهمه این مشکلات دست وپنجه نرم میکنیم .

از جامعه ملل تقاضا داریم تا هرچه زود تر مشکلات مردم افغانستان را در نظر گرفته و این تعزیرات را رفع نمایند .

سراج الدین موټروان :

بالاخره کوفی انان واقعیت را درك کرد

تعزیرات بالای طیارات آریانا در واقعیت تعزیرات بالای زنده گی مردم افغانستان است و این ادعای که بعضی از کشور ها دارند که گویا تعزیرات بالای مردم تأثیر ندارد هیچ صحت ندارد زیرا امروز خود سرمنشی ملل متحد اقرار میدارد که این تعزیرات بالای مردم عادی تأثیر خویش را بجاگذاشته که باید رفع گردد .

محمد اکرم د امانی مدرسي استاد :

کوفی انان هغه تصمیم چي نیولی باید عملی یې کړي

ښه ده چې د افغانستان د اسلامی امارت نظر د ملګرو ملتو د سازمان د سرمنشی له خوا هم تأیید شو او د افغانستان د عادی خلکو په ژوندانه باندی د ملګرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د بندیزونو منفی اغیزی یې په ښه توګه درک کړیدی دغه برلي مسالی څرګندوی هغه لاسرته چی د افغانستان په خلکو باندی د بندیزونو لګولو د تصمیمونو ترشادی څومره ناسم عمل کوی .

موږ د کوفی انان نه غواړو هغه تصمیم چي نیولی دی باید عملي هم کړی .

آصف عبدالله

دکابل آریانا ...

له نړیوالو سره سیالی ته تیارشوی دی په دی لړکی زموږ یو هیوادوال ښاغلی (نعمت الله) هم یادولی شو چی همدا اوس په کابل ښارکی د آریانا بسکیټ جوړولو کارخانه لری زموږ خبریال له دی کارخانی داسی راپور راکوی نوموړی کارخانی یوکال وړاندی تقریباً دیو نیم ملیارد و افغانیو په لومړنی پانګه کارپیل کړ چی اوس ٤٥ تنه هیوادوال پکی کارکوی او له دی لاری پاکه روزی لاس ته راوړی ، ددی کارخانی له ځینو مو وپوښتل چی ستاسو کارکوونکی څوساعته کارکوی او څه سهولتو نه مو ورته برابرکړیدی .

نوموړی دنوروڅرګندونو ترڅنګ داسی وویل : زموږ کارخانه چی په ٢٤ ساعته کی ۱۰۰۰ کیلو بسکیټ تولیدوی هر کارکونکی ته د ۸ ساعته کار په مقابل کی ۲٦٥۰۰ افغانی او دغرمی ډوډی ورکوو نوموړی زیاته کړه موږ دصرفي ورسره او لکه پاکستانه ګلوکوز او انوساله پاکستانه راوړو او ځینی نور مواد لکه اوړه ، بوره او غوړی په کابل کی اخلو. له ښاغلی نعمت الله نه مو پوښتل چی تاسو له مسولو مقاماتو څه غوښتنه لری؟

ده وویل موږ له هغوی ډیره ډیر خوښ یو چی موږ ته یی د کار زمینه برابره کړیده او له ټولو هغو هیوادوالو چی په هیواد کی د پانګی اچولو توان ولری هیله کوم چی په خپل هیواد کی پانګه واچوی او دخپل هیواد اقتصاد بیا په پښو ودریږ وی ترڅو ټولو هیوادوالو ته کار پیدا شی . چی رښتیا هم په هیواد کی د کارخانو په جوړولو سره به ډیر هیوادوال د ډیر دیر له احتیاجه خلاص شی . محمد رفیق « عزت »

صهیونستهاباز ...

اشغالګر دراین حملات وحشیانه از تانک وسلاح های ثقیله کار گرفته که دراثر این گلوله باری شدید تا ساحه برق رسانی نیز درشمال ساحل غربی هدف اصابت گلوله قرار گرفت که منجر به قطع جریان برق دران ساحه گردید.

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq

تـوجـه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید .